مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د نومبر لسمه |۶۲۶مه گڼه

# د دوحې هوکړې ناځرگند برخلیک؛

## افغان حکومت یې له امریکا د بیا کتنې، خو طالبان یې د عملي کولو غوښتنه کوي



۳


څېره
۴ مخ



## پیتر هاندکې

پیتر هاندکې اتریشي لیکوال او د نوبل گټونکی دی. هغه نه یوازې د نوبل جایزه گټلې؛ بلکې ډېرې نورې جایزې یې هم گټلې ده؛ خو وایي د نوبل جایزه ورته یو سردرد شوه.

## کرنې ریاست: په میدان وردگو کې په ډېر ژر ۲۲۱ کرنیزې پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شي



د میدان وردگو ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چې په دغه ولایت کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې د ۲۲۱ بېلابېلو پروژو چارې په چټکۍ روانې دي، چې ډېر ژر به گټې اخستنې ته وسپارل شي.
د میدان وردگو ولایت د کرنې رییس ولید احمد تسل وایي، د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې د میدان وردگو ولایت په مرکز او د دغه ولایت په سید اباد، نرخ، چک، بهسود، جغتو، جلریز او دیمرداد ولسوالیو کې د ۲۵۰ میلیونه او ۶۸۹ زره او ۳۶۶ افغانیو په لگښت د ۲۲۱ کرنیزو پروژو چارې روانې دي، چې رغنیزې چارې یې د بشپړېدو په درشل کې دي.
د هغه په خبره، د دغو پروژو ۹۰ سلنه لگښت د کرنې وزارت او لس سلنه لگښت یې د برخمن شویو بڼوالو او بزگرانو له خوا ورکول کیږي.

## بایډن له طالبانو سره هوکړه ختموي؟

۲ مخ

## د افغانستان لپاره د شانگهای همکارۍ سازمان ارزښت

۲ مخ

## د سوریې په جگړه کې د سپینې خولۍ والا خلک څوک دي؟

۳ مخ

## وکیلان: لومړی مرستیال او امنیتي ادارې د امنیت په ټینگښت کې ناکام دي

د ولسي جرگې غړو په کابل او نورو ولایتونو کې پر وروستي امنیتي وضعیت اندېښنه څرگنده کړې او پر امنیتي ادارو یې سختې نیوکې کړې دي.
وکیلانو د ولسي جرگې د پرونۍ غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال وویل چې امنیتي میثاق او د حکومت ورته نور پلانونه بې مانا او بې گټې دي او په هېواد کې یې د امنیت له راتگ سره هېڅ راز مرسته نه ده کړې. وکیلانو همدا راز ویلي چې امنیتي ادارې دي د ولس د تېر ایستلو پر ځای په عملي توگه د امنیت د تامین لپاره گامونه اوچت کړي.
دوی همدا راز ویلي چې د ولسمشر لومړی مرستیال د څو اونیو لپاره د کابل د امنیت مسوول ټاکل شوی، خو هېڅ راز لاس ته راوړنه لري او په امنیتي وضعیت کې هېڅ راز بدلون نه دی راغلی. د ولسي جرگې غړو داسې مهال پر امنیتي ادارو نیوکه کړې، چې د شنبې په ورځ یې د امنیتي ادارو مسوولین وربللي وو، خو د ولسي جرگې د غړو ترمنځ د ناندریو له امله دغه غونډه بې پایلې وه.
دغه راز یادې غونډې ته د امنیتي ادارو پر مسوولینو سربېره د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح او د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب هم وربلل شوي، خو دوی ولسي جرگې ته له ورتگ ډډه وکړه.

## د طالبانو ډېرى خوشې شوي بندیان بېرته د جگړې ډگر ته تللي



۲ مخ

## بایاني: برای بررسی وضعیت صحی زندانیان یک تیم صحی موظف شده است



حکومت افغانستان می گوید که تیم صحی ای را برای تعیین سرنوشت زندانیان مبتلا به بیماری‌هایی که درمان شان دشوار است، موظف کرده است.
ادارۀ رسیدگی به زندانیان، ایجاد این تیم صحی را در نشستی کمیتۀ عدلی و قضایی کابینه مطرح کرده است. به گفته مقامات ادارۀ رسیدگی به زندانیان، در این تیم بیست داکتر حضور دارد.
فرهاد بایانی سخنگوی این اداره به رادیو آزادی گفته است، این تیم در هماهنگی با ریاست شورای طبی افغانستان، کار خود را عملاً آغاز کرده است.
او افزوده است: «این تیم صحی وظیفه گرفته تا در جریان یک هفته زندانیان را با در نظرداشت وضعیت صحی شان تحت بررسی قرار بدهد و به کمیسیون عالی معرفی کند تا در بارۀ سرنوشت شان تصمیم گرفته شود.»
بایانی گفته است که پروسۀ تثبیت و تشخیص زندانی‌های مبتلا به امراض صعب‌العلاج در زندان مرکزی پلچرخی، زندان خاص مواد مخدر، زندان اناثیۀ کابل، توقیف‌گاه‌های مواد مخدر و توقیف‌خانۀ کابل به پیش برده می‌شود.
به گفتۀ بایانی در حال حاضر ۲۷ هزار زندانی در محابس کشور به سر می‌برند. این در حالیست که چند ماه پیش بخشی از زندانیان که مدت حبس شان کم مانده بود، و یا هم تکمیل شده بود، بخاطر جلوگیر از ویروس کرونا از بند رها شده است.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### بایډن له طالبانو سره هوکړه ختموي؟

د امریکا نوي ولسمشر جو بایډن یوځل بیا ویلي چې د امریکا اوږده جنګونه به ختموي، له افغانستان څخه به خپل ځواکونه وباسي او هلته به یوازې یوه وړه ډله له ترهګرۍ سره د جګړې لپاره پریږدي. تر دې وړاندې هم بایډن همداسې څرګندونې کړې وې او له افغانستان څخه یې د خپلو ځواکونو پر ایستلو ټینګار کړی و.

لا هم له خلکو سره دا پوښتنې شته چې بایډن به د افغانستان له جګړې او سولې سره څه کوي؟ له طالبانو سره شوې هوکړه به عملي کوي، که بدلون به پکې راولي او یا به یې هم یو مخ لغوه کوي؟

د افغانستان په تړاو د جو بایډن تګلاره د ټرمپ تګلارې ته ورته ده. هغه غواړي د افغانستان جګړه ختمه کړي او آن کله چې نوموړی د اوباما مرستیال و، په سپینه ماڼۍ کې یې اوباما ته ویلي وو چې هغه حاضر نه دی چې خپل زوی د افغانستان جګړې ته ولیږي. بایډن ته د افغانستان جګړه اوږده، ستړې کوونکې او بې ځایه جګړه ښکاري چې امریکایانو ته مالي او ځاني زیان اړوي، نو ځکه باید ختمه شي. له همدې امله یوازینۍ کړنه چې بایډن به پرې له ټرمپ څخه خوشاله وي او ترې منته به وکړي، هغه له افغانستان څخه د ټولو امریکایي ځواکونو وتلو ته لاره هوارول او په دې برخه کې شوي پرمختګونه دي.

دا چې بایډن وایي چې یوه ډله سرتیري به په افغانستان کې پریږدي چې له ترهګرۍ سره جګړه وکړي، ځینې کسان فکر کوي چې ښایي دا چاره طالبان د هوکړې نقض وګڼي او په دې سره به د امریکا او طالبانو هوکړه له منځه ولاړه شي. دوی تېروتنه کوي، ځکه چې د امریکا او طالبانو هوکړې امریکا ته زیاته ګټه رسولې ده. د امریکایي ځواکونو مرګ ژوبله ختمه شوې، لګښتونه یې میلیاردونه ډالره راکم شوي، له افغانستان څخه اوس ورته کوم ګواښ نشته او په دې اړه ډاډ هم ورکړل شوی دی. دا همغه څه دي چې بایډن یې غواړي. اوس چې بایډن د یو ډلې پوځیانو د پرېښودلو خبره کوي، ښایي دا د ممکنه ګواښ د مخنیوي لپاره وي، خو که بایډن پوه شي چې دا ګواښ نشته او طالبان په دې اړه ډاډه او آن تضمین ورکړي، نو بیا به له دې چارې هم تېر شي او د هوکړې عملي کولو او د ځواکونو ایستلو ته به همداسې دوام ورکړي. بایډن به د افغانستان په تړاو د ټرمپ تګلاره تعقیب کړي، ځکه چې له یوه اړخه په دې تګلاره او له طالبانو سره په هوکړه کې د امریکا د مهمو بنسټونو نظر و او له بله اړخه دا هوکړه د امریکا ګټې خوندي کوي.

پر دې بنسټ بایډن د افغانستان په تړاو د ټرمپ تګلاره تعقیبوي. البته په دې تګلاره کې به ځینې واړه او شکلي بدلونونه راشي، خو لوی مسایل به یې پر ځای وي. بایډن د افغانستان جګړه د امریکا لپاره ختموي، خپل ځواکونه وباسي او په افغانستان کې د امریکا لګښتونه تر ممکنې کچې را ټیټوي. نو هغوی چې فکر کوي افغانستان به بېرته له امریکا سره د پخوا په شان اړیکې ولري، همغسې مرستې به وي او جګړه به دوام کوي، تېروتي دي. هغوی ته پکار ده چې له دې خیاله را ووځي، واقعیتونه درک کړي او د سولې لپاره کار او هڅې وکړي.

# د افغانستان لپاره د شانګهای همکارۍ سازمان ارزښت



لیکواله: سپوږمۍ
د چین میډیا ګروپ خبریاله




ټاکل شوې چې «د نومبر په لسمه» د شانګهای همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو د مشرتابه شورا ۲۰مه غونډه تر سره شي او د چین رسمي سرچینو خبر ورکړی چې د دغه هېواد د دولت رییس به په یاده غونډه کې انلاین ګډون او وینا وکړي.

شانګهای همکارۍ سازمان چې په ۲۰۰۱ کال کې د سیمه ییز امنیت د ساتلو په موخه جوړ شو، اوس په نړۍ کې تر ټولو لوی نړیوال سازمان دی چې د اړوندو هېوادونو د وګړو عمومي شمېر درې اعشاریه یو میلیاردو ته رسېږي او عمومي مساحت یې له ارام سمندر تر اتلانتیک پورې پراخوالی لري.

افغانستان ته د شانګهای همکارۍ سازمان اهمیت د کومې اړتیا له مخې؟ که په دې بحث وکړو چې ولې افغانستان ته د شانګهای همکارۍ سازمان اهمیت لري؟ ښایي ځواب یې ډېر تفصیل ته اړتیا ولري، خو دلته یې په لنډ ډول څو لاملونو ته اشاره کوو: په عمومي توګه ویلای شوو چې د شانګهای همکارۍ سازمان کې د سیمې د مهمو هېوادونو غړیتوب او په افغانستان کې د امریکا دوه مخې لوبه؛ دوه هغه لوی او مهم دلایل دي چې افغان دولت د شانګهای همکارۍ سازمان ته پر اهمیت قایل دی.

الف؛ چین، روسیه، قزاقستان، قرغېزستان، ازبکستان، تاجکستان، پاکستان او هند د شانګهای همکارۍ سازمان غړي هېوادونه دي چې یا له افغانستان سره ګډې پولې لري او یا هم افغانستان ته ډېر نږدې پراته دي.

د شانګهای همکارۍ سازمان له جوړېدو راهیسې په هره غونډه کې د افغانستان مسئلې ته پاملرنه شوې، داسې چې په ډېری خپرو شویو اعلامیو او سندونو کې د افغانستان مسئله ځانګړی ځای لري.

افغان حکومت هم د سیمې پر موضوعاتو د شانګهای د همکارۍ سازمان اغېزه درک کوي، نو ځکه دغه سازمان ته پر ارزښت قایل دی او له ۲۰۰۴ کال راهیسې یې د شانګهای همکارۍ سازمان تر چوکاټ لاندې په بېلابېلو غونډو کې د ګډون لپاره استازي یا پلاوي لېږلي دي.

د ۲۰۰۵ کال په نومبر کې د شانګهای همکارۍ سازمان د افغانستان ارتباطي ګروپ جوړ شو، بیا په ۲۰۱۰ کال کې افغانستان د یاد نړیوال سازمان ناظر هېواد ګرځېدلی او په ۲۰۱۵ کال کې افغانستان رسماً په دغه سازمان کې د غړیتوب غوښتنلیک وړاندې کړ.

ب؛ په افغانستان کې د امریکا له متضادو سیاستونو او کړنو داسې ښکاري چې دغه هېواد یوازې د خپلو ګټو په لټه کې دی او همدا وجه ده چې سیاستونه یې ژر ژر بدلوي.

په دې مانا چې دوی له کلونو راهیسې په افغانستان کې د خپل پوځي حضور ساتلو په موخه زیاتې پیسې مصرف کړې او د تش په نامه نړیوال پولیس رول په لوبولو سره یې له افغان حکومت سره پوځي مرستې کړې او له بلې خوا بیا په ناڅاپي توګه له افغانستان څخه د پوځیانو وتلو پرېکړه کوي.

که څه هم حقیقت دا دی چې امریکا په افغانستان کې خپلو موخو ته په رسېدو کې نامه ښکاري او اوس امریکایي سیاستوال حیران دي چې کومه لار انتخاب کړي؛ که له افغانستان څخه پوځیان وباسي او میدان پرېږدي، نو په میلیاردونو د مصرف شوو ډالرو برخلیک به څه کېږي؟ او که پاتې کېږي، نو نورو لګښتونو ته اړتیا لري.

د امریکا حکومت د روان کال په اپرېل کې له طالبانو سره یو هوکړه لیک لاسلیک کړ او اعلان یې وکړ چې د ۲۰۲۱ کال له مې میاشت مخکې به له افغانستان څخه ټول ځواکونه وباسي.

بېلابېلو افغان لوریو همغه وخت د دې هوکړه لیک په اړه خپلې اندېښنې په ډاګه کړې او د دوی په باور له افغانستان څخه په بیړه د بهرنیو پوځیانو وتل ممکن په افغانستان کې د کورنۍ جګړې سبب شي.

که څه هم په امریکا کې ولسمشریزې ټاکنې تر سره شوې، خو هېڅوک نه پوهېږي چې آیا امریکا به د افغانستان په اړه خپله راتلونکې تګلاره څنګه وټاکي؟

د افغانستان په اړه د امریکایي سیاستوالو متضاد سیاستونه هغه ټکي دي چې شانګهای همکارۍ سازمان ته د افغان حکومت تمه زیاتوي.

امریکا له افغانستان سره څه باندې لس زره کیلومتره واټن لري، خو د شانګهای همکارۍ سازمان په همدې سیمه کې دی او د سیمې پر حالاتو زیات اغېز لري.

ډېری بانفوذه افغان شخصیتونه د دغه هېواد په امنیت کې د سیمې هېوادونو رول مهم ګڼي. د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي څو ورځې دمخه په یوه اړونده غونډه کې وویل، چې د سیمې هېوادونه د افغانستان د سولې بهیر او بیارغونه کې رغنده رول لري، برعکس د افغانستان سوله او ثبات د سیمې پر سمسورتیا او پرمختګ هم ډېره اغېزه کوي، نو ځکه افغانستان باید ژر د شانګهای همکارۍ سازمان رسمي غړیتوب تر لاسه کړي. د افغانستان مختلفو خواوو هم دا هیله ښودلې چې د شانګهای همکارۍ سازمان دې د دغه هېواد د سولې بهیر په پرمخبیولو، ترهګرۍ او نشه یي توکو ضد مبارزه کې مثبت رول ولوبوي.

د افغانستان امنیت او ثبات د سیمې د ثبات لپاره ډېر مهم دی او د دغه هېواد نا امني د شانګهای همکارۍ سازمان د بېلابېلو غړو هېوادونو پر پرمختګ مستقیمه اغېزه کولای شي.

پر دې سربېره، افغانستان د یو کمربند او یوې لارې په ابادۍ کې د اړوندو هېوادونو تر منځ د متقابل پیوستون د تر سره کېدو لپاره یوه مهمه څلور لار ده.

نو ځکه له تېرو څو کلونو راهیسې د شانګهای همکارۍ سازمان افغانستان ته ډېره پاملرنه کوي.

د ۲۰۱۷ کال په جون کې د روسیې د ولسمشر ولادیمیر پوتین په وړاندیز د دغه سازمان غړي هېوادونه د افغانستان د ارتباطي ګروپ د بیا فعالېدو په اړه توافق ته ورسېدل. د همدې کال په اکتوبر او د ۲۰۱۸ کال په مې کې یاد ارتباطي ګروپ په مسکو او بېجینګ کې د مرستیالو بهرنیو چارو وزیرانو دوې غونډې جوړې کړې دي. د ۲۰۱۸ کال په جون کې د شانګهای همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو مشرانو شورا په چینګداو غونډه کې په خاصه توګه د افغانستان مسئلې ته متوجه شوې دي.

د چین د دولت رییس شي جین پینګ دې غونډې ته د خپلې وینا په ترځ کې پر دې ټینګار وکړ، چې د شانګهای همکارۍ سازمان کې دې د افغانستان ارتباطي ګروپ خپل رول ولوبوي او د دغه هېواد د سولې او بیا رغونې بهیر دې پرمخ بوځي.

د چینګداو په اعلامیه کې راغلي چې د شانګهای همکارۍ سازمان غړي هېوادونه به په دوامداره توګه د سیاسي بهیر د پرمخ بیولو، د ملي امنیت د ساتلو، اقتصادي پرمختګ د موندلو او ترهګرۍ او نشه یي توکو ضد مبارزې په ګډون ځینو نورو برخو کې له افغان حکومت او خلکو څخه ملاتړ وکړي.

له ۲۰۱۵ کال راپدېخوا افغان حکومت تل په شانګهای همکارۍ سازمان کې د رسمي ګډون په هڅه کې دی، څو افغان سیاستوالو هم په مختلفو نړیوالو ډګرونو کې دا هیله څرګنده کړې. روسانو په شانګهای همکارۍ سازمان کې د افغانستان له غړیتوب څخه ملاتړ څرګند کړی، خو ویلي یې دي چې په یاد نړیوال سازمان کې د شاملېدو لپاره د افغانستان پر وړاندې اوږده لار پرته ده. شک نشته چې دغه سازمان د افغانستان مسئله خپله مسئله ګڼي او د افغانستان په اړه د نړیوالې همکارۍ یو ډېر مهم ډګر به هم وګرځي.

## دانش: د طالبانو ډېری خوشې شوي بندیان بېرته د جګړې ډګر ته تللي

ولسمشر غني دویم مرستیال سرور دانش طالبان د ژمنې په ماتولو تورنوي او وایي چې د دې ډلې اکثریت خوشې شوي بندیان بېرته د جګړې ډګر ته تللي.

دانش چې تېره ورځ یې په کابل کې یوې غونډه کې وینا کوله، وویل چې د افغان دولت له لوري طالبانو ته زیات امتیاز د ورکولو له امله خلک پر حکومت انتقادونه کوي.

هغه زیاته کړه: «د هغو زیاتو امتیازاتو له امله چې دولت د زندانیانو د خوشې کولو په برخه کې طالبانو ته ورکړي، نن خلک د افغانستان حکومت تر پوښتنې لاندې راولي... خلک د دې لپاره د افغانستان حکومت مسوول ګڼي چې اکثره خوشې شوي کسان د خپلو ژمنو په خلاف بېرته د جګړې ډګرونو ته تللي دي».



نوموړي دغه راز وویل چې د تاوتریخوالي زیاتوالی په ځانګړي ډول د مذاکراتو په بهیر کې د طالبانو له لوري ړندې وژنې افغان حکومت ته د منلو نه دي او دا د امریکا – طالبانو ترمنځ تړون څخه ښکاره سرغړونه ګڼل کېږي.

هغه زیاته کړه چې طالبانو په یوې ژمنې هم عمل نه دی کړی او حتی له نورو تروریستي ډلو سره یې خپلې اړیکې نه دي پرې کړي. د دانش په وینا، طالبان لا هم په جګړې ټینګار کوي او په سوله‌ییزه توګه د افغانستان د مسئلې پر حل باور نه لري.

د ولسمشر غني دویم مرستیال وویل: «د طالبانو ډله چې هېڅ انعطاف له ځانه نه ښیي د دوحې په مذاکراتو کې د بن‌بست اصلي عاملین دي او په کابو دوه میاشتې مذاکراتو کې د هر ډول پرمختګ خنډ ګرځېدلي دي».

دانش د افغان سولې په بهیر کې د سیمې او نړۍ د هېوادونو له هڅو مننه وکړه او زیاته یې کړه چې افغان حکومت په بین‌الافغاني خبرو کې د اختلافاتو د حل او له ځنډ پرته د مذاکراتو د پیلېدو غوښتونکی دی.

هغه دغه راز د امریکا له نوي حکومت څخه وغوښتل: «هیله لرو چې د امریکا د نوي حکومت د رهبرۍ د کار په موده کې د (سولې) وهل شوي مزل باندې بیا غور او ارزونه وشي او شته ستونزې حل شي».

دانش دا څرګندونې په داسې مهال کړې چې طالبانو د امریکا له نوي حکومت څخه غوښتي ترڅو د متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ شوي تړون ته ژمن پاتې شي. دغه راز طالبانو د دانش وروستیو څرګندونو ته په غبرګون کې څه نه دي ویلي.

# د سوریې په جگړه کې د سپینې خولۍ والا خلک څوک دي؟

لیکنه: عبدالله لغمانی

د سوریې جگړه چې له ۲۰۱۱ کال څخه راپیل شوې ده، له امله یې په سلگونو زره خلک له خپلو مېنو جلا په عربي او اروپایي هېوادونو کې مهاجر شول او تر اوسه پورې شاوخوا ۴۰۰ زره کسان په دې جگړو کې وژل شوي دي او په سلگونو زره نور پکې ټپیان شوي دي. اوسمهال یې دولت د هېواد د بېلابېلو سیمو د کنټرول راوستلو په درشل کې دی او څه باندې ۷۰ سلنه خاوره یې تر خپلې ولکې لاندې راوستلې ده او د پخوانیو جنگي کلونو په پرتله پکې د هغو ورځو په پرتله په ځینو سیمو کې یوڅه کراري جوړه شوې ده.

د سوریې جگړه د دې څو کلونو په جریان کې څو اړخیزه وه او بېلابېلو یاغي او باغي ډلو د سوریې د حکومت پر وړاندې په وسله واله مبارزه لاس پورې کړې و. په دې ډلو کې پر جهادي وسله والو، د داعش جگړه مارانو او حکومتي ناراضیانو سربېره؛ ترکیه، امریکا، اسرایل، اروپایي ټولنه، عربي هېوادونه، ایران، روسیه او ځینې نور بهرني هېوادونه هم هلته ښکېل دي. په دې جگړه کې بېلابېلې ډلې راټوکېدې او ځینې ډلې یې د سوریې د حکومت او د هغوی د ملاتړو له لوري له منځه ولاړې او یا یې مشران ووژل شول.

په دې لړ کې یوه مشهوره ډله د (سپین خولیو) یا د سپینو خولیو White Helmets والا ډله وه چې په زرگونو کسان یې درلودل. د دې ډلې بنسټ د برېتانوي James Le Mesurier لخوا چې د برېتانوي استخباراتو (ایم ای ٦) مامور و، په ۲۰۱۳ کال کې کېښودل شو. دا ډله چې ځان بې پرې او ناپېیلې گڼي، وایي چې داوطلب کسان پکې په جنگي سیمو کې د غیرنظامیانو د دفاع لپاره راټول شوي دي او د هغو د مرستې لپاره هلې ځلې کوي؛ خو د سوریې دولت یې د دوی پر وړاندې په تبلیغاتو او د برېتانیا او نورو اروپایي هېوادونو لخوا په تمویل تورنوي. دوی وایي چې دا سازمان او مشر یې د برېتانیا استخباراتو او نورو ته کار کوي او همدارنگه زیاتوي چې د خلکو د ژغورنې په نامه به یې هغو وړانو محلونو ته ځانونه رسول او بیا به یې زخمي خلک په بې رحمانه ډول وژل او له خاورو لاندې کول به یې. بیا به یې له دغو خاورو لاندې کسانو او وړانیو څخه ویډیوگانې کولې او لوېدیځو مطبوعاتو ته به یې لېږلې، چې دلته د سوریې د دولت لخوا په ډېره بې رحمۍ سره خلک وژل کېږي او د بې گناه خلکو قتلونه کېږي.

د دوی مخالفین وایي چې دوی به وحشتناکه صحنې جوړولې او د دې لپاره چې د نړۍ د خلکو اذهان د سوریې د حکومت پر وړاندې بدل او منفي کړي، بیا به یې لوېدیځو رسنیو ته لېږلې. د بېلگې په ډول، د سوریې د حلب ښار ازادي چې د سپین خولیو والا ډلې بیا په دې ښار کې بې گناه خلک وژلي او بیا یې د ویډیوگانو له لارې مستند کړي او نړیوالې میډیا ته یې لېږلي وو، چې د سوریې د دولت لخوا د حلب په ازادۍ کې په عامو خلکو قتل عام شوی او بې گناه خلک وژل شوي دي.

دغه مخالفین یې وایي چې د نړۍ په ټولو جنگي سیمو او د جنگ په میدانونو کې سره میاشت او سور صلیب کار کوي؛ خو دلته د نړۍ د ټولو هېوادونو برخلاف داسې یوه ډله کار کوي چې د پردیو لخوا تمویلېږي او لوری او جهت یې هم معلوم دی. د دوی ځینې ویډیوگانې او له عیني خلکو سره له مرکو معلومه شوه چې د سپینو خولیو والا کسانو به د وسله والو مخالفانو له اوړو څخه وسلې ایسته کولې او بیا به یې په مړینې راټولول، چې وښیي د سوریې دولتي ځواکونو پر عامو خلکو بمبارونه کړي او د بې گناه کسانو خونې یې ورانې کړې دي.

دوی په دې ډول هڅه کوله چې تور، سپین او سپین، تور خلکو ته وښیي او هڅه یې دا وه چې د سوریې د دولت د نسکورولو لپاره د نړۍ د خلکو ملاتړ او د دولتونو ملاتړ راجلب کړي او وکړای شي چې په دې برخه کې ځان بریالیتوب ته ورسوي.

د دې ډلې مشر برېتانوی James Le Mesurier د تېر ۲۰۱۹ کال په نومبر کې په ترکیه کې په مرموز ډول مړ شو، خو مطبوعاتو داسې انعکاس ورکړ چې نوموړي د خپل کور له کړکۍ ځان راغورځولی او ځان یې وژلی دی.

د دې ډلې منتقدین وایي چې دوی په ځلونو ځلونو جنگي صحنې داسې ترسیم کړې دي، چې گواکې د سوریې د دولت متحدینو په بې گناه خلکو قتل عام کړی او کیمیاوي وسلې یې پرې استعمال کړې دي.

د دې کړۍ وروستۍ سناریو په ۱۳۹۷ لمریز کال کې دوی جوړه کړه چې د سوریې پر دوما ښار باندې د سوري ځواکونو حملې داسې وښیي، چې گویا کیمیاوي وسلې یې استعمال کړې دي او د دې صحنو په انځورولو سره یې القاعدې او نورو ډلو ته له دې سیمې څخه د وتلو لاره برابروله.

# د دوحې هوکړې ناڅرگند برخلیک؛

## افغان حکومت یې له امریکا د بیا کتنې، خو طالبان یې د عملي کولو غوښتنه کوي



په بین الافغاني خبرو کې د خنډونو له جوړېدو سره هممهاله د دغو مذاکراتو او د دوحې د هوکړې په اړه نوې مسایل رامنځ ته شوي دي. طالبانو ویلي چې په امریکا کې نوی جوړېدونکی حکومت باید د دوحې هوکړې ته ژمن وي او عملي یې کړي، خو افغان حکومت بیا وایي چې نوی امریکایي حکومت دې پر دې هوکړه له سره کتنه وکړي، ځکه ډېرې ستونزې لري. د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی بیا وایي چې خبرې له نامعلوم برخلیک او سترو خنډونو سره مخ دي، ځکه د طالبانو غوښتنې د نه منلو وړ دي.

سره له دې چې د افغانستان د سولې مسئله له لومړي سره د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ لپاره یوه کمپاینې مسئله بلل کېده، خو اوس په امریکا کې د نوي حکومت له راتگ سره د دوحې هوکړې د له منځه تلو وېره هم شته ده. په ټولنیزو رسنیو کې او افغان سیاسي فعالین پر دې باور دي چې ښایي بایډن د سولې له هوکړې سره مخالفت وکړي او یا هم له دې موافقې تېر شي، خو د افغانستان د مسئلې له مهم والي سره سره، جو بایډن تر اوسه په دې اړه هېڅ راز غبرگون نه دی ښودلی.

افغان حکومت بیا له بایډن او د ده په مشرۍ له جوړېدونکي حکومت غواړي چې د سولې پر هوکړه له سره کتنه وکړي. د ولسمشر غني لومړي مرستیال سرور دانش پرون په کابل کې په یوه غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې طالبانو پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی، تاوتریخوالی یې ډېر کړی، جگړې یې شدیدې کړې، له ترهگرو ډلو سره یې اړیکې نه دي پرې کړې او دا ټول هغه څه دي چې د سولې پر ځای جگړې ته د دې ډلې ژمنتیا ښیي. نوموړي همدا راز د خپلو خبرو پر دوام ویلي چې افغان حکومت د دوحې هوکړې ته هېڅ راز مسوولیت نه لري، ځکه هغه د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه ده چې په افغان حکومت پورې هېڅ اړه نه لري. سرور دانش پر امریکا غږ کړی چې د سولې پر هوکړه له سره کتنه وکړي او په دې توگه دې په دې برخه کې ټولې شته ستونزې حل کړي. د سرور دانش په خبره: ((موږ د افغانستان حکومت په توگه دا هوکړه نه لاسلیک کړې، نه یې یو لوری یو، نه مو توحید کړې او له حقوقي او قانوني اړخه، د هغه څه په اړه چې د هوکړې په جزیاتو کې راغلي، هېڅ ډول مسوولیت هم نه لرو)).

سرور دانش دا هم وویل چې طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی او افغان حکومت د ولس له لوري د پنځه زره نه زیاتو طالب زندانیانو د خوشي کولو له امله تر فشار لاندې دی. هغه د دې ستونزې د حل یوازینۍ لار دا بولي چې امریکایي نوی حکومت پر هوکړه بیا کتنه وکړي او خنډونه یې له منځه یوسي. بلخوا طالبان بیا د جو بایډن له حکومت د دې هوکړې د عملي کولو او ساتلو تمه لري. سره له دې چې طالبانو په رسمي اعلامیه کې تر دې دمه د امریکا د ټاکنو په اړه دریځ نه دی څرگند کړی، خو د دې ډلې د قطر دفتر ویاند ډاکټر نعیم وایي، د دوحې هوکړه د افغانستان او امریکا دواړو په گټه ده او باید عملي کړل شي. نوموړي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې د جوبایډن په مشرۍ د امریکا نوی حکومت باید هوکړه عملي کړي او د سولې لپاره کار وکړي. ډاکټر نعیم یو ځل بیا ویلي چې د دوحې هوکړه باید د مذاکراتو لپاره اساس وي او پر دې مسایلو بحث شوی دی. د ده په خبره: ((د دوحې هوکړه باید د مذاکراتو لپاره بنسټ وي، پر دې موږ بحث کړی دی، په دې کې د ټولو گټه ده)).

د افغان دولت د مذاکراتي پلاوي غړی نادر نادري بیا وایي چې د طالبانو د خبرو منل او ددوی غوښتنې عملي کول امکان نه لري. هغه وایي له دغه ډلې سره خبرې له خنډونو سره مخ دي او تر دې دمه هېڅ راز پرمختگ پکې نشته دی.

# عراق ته د داعش تازه گواښ؛

## راپورونه: بغداد ته نږدې د داعش په برید کې ۱۱ کسان وژل شوي او گڼ نور ټپیان دي



د فرانسې خبري اژانس د عراق د روغتیایي سرچینو د معلوماتو په اساس ویلي چې د بغداد په لوېدیځ کې د حکومت د ملاتړو قومي ځواکونو پر یوه مرکز باندې د اسلامي دولت د ډلې یا (داعش) په برید کې ۱۱ تنه وژل شوي او گڼ نور ټپیان شوي دي.

د راپورونو له مخې، د داعش ډلې جنگیالیو د عراق هوایي ډگر ته نږدې په الرضدوانه سیمه کې په مېشتو الحشد الشعبي قومي ځواکونو باندې ډزې کړې او لاسي بمونه یې پرې غورځولي دي.

یوې امنیتي سرچینې د نوم نه ښودو په شرط فرانس پرېس ته ویلي چې داعش د دې اډې د ځار پر برج برید کړی او د الحشد الشعبي ځواکونو پنځه تنه او همداشان هغه شپږ محلي کسان یې وژلي چې له دغو ځواکونو سره د مرستې لپاره راغلي وو.

په ورته وخت کې یوې روغتیایي سرچینې ای اف بي اژانس ته تایید کړې چې له یادې پېښې گڼ ټپیان د بغداد مرکزي روغتون ته انتقال شوي دي. داعش ډلې تر اوسه د دې پېښې مسوولیت نه دی منلی.

د یادونې ده چې داعش ډلې په ۲۰۱۴ ز کال کې د عراق په درېیمه برخه واکمن و او د دغه هېواد په شمال او لوېدیځ کې یې څو ښارونه نیولي وو او د بغداد دروازو ته رسېدلي وو. د امریکا د متحده ایالتونو په مشرۍ نړیوال ائتلاف په ملاتړ د درې کلنې سختې جگړې په نتیجه کې عراق د ۲۰۱۷ ز کال په وروستیو کې د داعش ماتول او له منځه وړل اعلان کړل.

په روان میلادي کال کې نړیوال ائتلاف په عراق کې د داعش تر ځپل کېدو وروسته خپل ډېری ځواکونه له دغه هېواده وایستل او پاتې ځواکونه د عین الاسد او اربیل په گډون د بغداد په دریو عمده اډو کې ځای پر ځای شوي دي.

بلخوا د عراقي چارواکي وایي چې د داعش پاتې جنگیالیو پر امنیتي ځواکونو او دولتي تاسیساتو باندې خپلو غلچکیو بریدونو ته دوام ورکړی، خو بغداد ته نږدې د دومره تلفاتو سره د داعش دا ډول برید په دې وروستیو کې بې ساری دی. تر دې وړاندې د عراق په پارلمان کې هم یو شمېر وکیلانو اندېښنه ښودلې وه چې داعش ډله هڅه کوي یوځل بیا خپل جنگیالي سره منسجم کړي او لویو بریدونو ته تابیا ونیسي.


## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسد دوراني او ادیتیا سینها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه

### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک




دوراني: کابو لس کاله مخکې يوې ويبپاڼې چې په بېلابېلو برخو کې سروې گانې کوي، د نړۍ د استخباراتي ادارو يو نوملړ خپور کړی و. تر موساد، CIA او ځينو نورو ادارو وروسته ISI په لوړ رديف کې وه. له شک پرته چې په کور د ننه خلک ترې خوشاله دي. ما پوښتنه وکړه او ومې ويل، ډېر نه پوهېږم خو د دې رديف بندۍ لپاره ټاکل شوي شاخصونه راته سم برېښي. د شاخصونو له ډلې يو يې هغه گواښونه وو چې پاکستان ورسره مخ دی، هم په کور د ننه او هم په بهر کې. دويم شاخص يې سرچينې وې. د هغو ښرگندونو برعکس چې وايي موږ له سعودي عربستان او امريکا څخه پيسې ترلاسه کوو، ISI پرېمانه بوديجه لري او کلک څار موجود دی. دا مهمه نه ده چې د گوتو په شمار کسان څوک دي، يو، دوه، درې يا څلور دي. خپله درسپارل شوې دنده بايد ښه ترسره کړې، نومورکی اوسې، هېڅوک بايد د امتياز اخيستو دعوه ونه کړي او نه بل څوک په کار کې ملامت کړې. لکه ستاسو د موکتي واهيني په څېر. زما لپاره د ISI د ارزونې ښه معيار د شوروي له لوري د افغانستان د اشغال موده وه. سره له دې چې موږ هغه مهال له لوېديځوالو څخه مرستې ترلاسه کولې، خو هېچا ته مو اجازه نه ورکوله چې په کارونو کې مداخله وکړي. کله چې سره جگړه پای ته ورسېده، موږ بايد په سيمه کې خپلې موخې بدلې کړې وای او ISI په دې برخه کې کليدي رول ولوباوه. يوه بله لاسته راوړنه دا ده چې تر اوسه زموږ هېڅ کارکوونکی د کامرو تر څار او ښکار لاندې نه دی راغلی.
سېنها: د هند پر خلاف د ISI لويه ناکامي څه شی ده؟ زه به له دولت څخه هم ورته پوښتنه وکړم.
دوراني: زه فکر کوم لومړی بايد هغه ځواب ووايي.
دولت: د پاکستان پر وړاندې زموږ لويه نيمگړتيا دا ده چې موږ نه يو توانېدلي چې د ISI يو افسر تر خپل نفوذ لاندې راولو او يا هم کوم يو يې زموږ لپاره کار کړی وي. يا هم زما د معلوماتو له مخې په داسې کومه کچه مو کس نه دی استخدام کړی، چې حساب دې پرې وشي. که چېرته د سرې جگړې وخت ته سر ورښکاره کړو، د CIA د يوه افسر اصلي دنده څه وه؟ د غدارانو پېژندل. کله به چې د CIA يوه غړي کوم غدار پيدا کړ، نو بيا به د مسلکي ژوند تر پايه نه و چې کوم کار وکړي، ځکه چې هغه به لوی کار ترسره کړی و. زموږ په منځ کې بيا په دې اړه چا فکر هم نه کاوه او زه فکر نه کوم چې څوک دې پر موږ بريالي شوي وي.
سېنها: حتی که موږ د ISI د ننه کوچني جاسوسان هم درلودای، څوک به نه وای پوه شوي.
دولت: گومارل شوي جاسوسان د غدارانو په پرتله اسانه دي. جنرال صېب د ډبل جاسوسانو خبره کوي. ډبل جاسوسان تر غدارانو په دويم قدم کې غوره کسان دي. که يو کس د پاکستان لپاره کار کوي او زه هغه نيسم، نو د دې چانس لرم چې هغه ځای ته ځان ورسوم چې بايد هلته وم. نو په دې توگه د ISI په منځ کې د يوه غدار پيدا کول زموږ ستره نيمگړتيا ده.
دوراني: په عملياتي کچه، د ۱۹۶۵ کال د جگړې پر مهال، کولای شو ادعا وکړو چې موږ په دې اړه ډېر ښه معلومات ترلاسه کړي وو چې مقابل لوری څنگه جگړې ته چمتووالی نيسي. خو يادې هڅې مو له لاسه ورکړې. د ۱۹۷۱ کال په جگړه کې ISI په ختيځ پاکستان کې د جگړې په اړه وړاندوېينه کې پاتې راغلی و. زما د رياست په وخت کې موږ اټکل کړی و چې د کشمير تر پاڅون وروسته د هندي پوځ تيارسئ د جگړې په مانا نه و. زه کولای شم چې د دې امتياز ځان ته ورکړم. خو لويه نيمگړتيا دا وه چې موږ نه پوهېدو چې د کشمير پاڅون څومره وخت دوام کوي. دغه ډول پېښې معمولاً شپږ مياشتې يا يو کال وخت نيسي. کله چې دومداره شو، نو موږ واقعاً حيران وو چې څنگه يې کابو کړو. موږ نه غوښتل چې پاڅون زموږ له ولکې بهر شي، چې کېدای شوای په داسې جگړې واوړي چې دواړو لوريو نه غوښتل. ايا کېدای شوای چې په کوچنۍ سطحه مو مديريت کړی وای؟ دا زموږ لپاره يوه ننگونه وه. د کشمير پر جنگياليو د ISI کنټرول لږ بريالی و. په ځانگړې توگه زه اوس هم په دې پښېماني څرگندوم چې موږ ولې د امان الله گېلگېټي په نيولو کې جدي نه وو. د پاڅون مشري گېلگېټي کوله. هغه پيل کړی او طرحه کړی و او په اړه يې څرگندونې کولې. کله چې زه په ISI کې وم، له هغه سره مې يو ځل وليدل. نوموړی هغه مهال دومره مهم نه و. په هر حال د هغه د خپلواکۍ دريېم انتخاب په غير ضروري ډول اوبه خړولې. او ازادي يعنې څه؟ که څه هم گېلگېټي تر ټولو جدي او مهمه موضوع وه. لکه د چکوټي د لاريون په څېر. موږ هر کال د اکتوبر ۲۷ مه د تورې ورځې په توگه نمانځو. گېلگېټي يوازېنی شخص و چې پاڅون يې منظم، ځيرکانه او په ارام ډول ترسره کړ له کوم تاوتريخوالي پرته يې خپل لاريون ته دوام ورکړ. نور لاريونونه او اعتراضونه بيا دومره خطرناک او جدي نه وو، له يوه او بل ځايه راغلل، ويناوې او چيغې يې ووهلې او بېرته لاړل. خو که چېرته په ۱۹۹۰ يمه لسيزه کې د کشمير پاڅون تکامل ته ور وگرځو، نو زه فکر کوم چې د حريت غورځنگ جوړېدل چې مقاومت ته يې سياسي لوری ورکاوه، يوه ښه نظريه وه.

دوام لري...

# پيټر هاندکې

شفيق اميرزى



پيټر هاندکې اتريشي ليکوال او د نوبل گټونکی دی. هغه لنډې کيسې او همدارنگه د سينما او تياتر لپاره ننداري ليکي. په تېر ۲۰۱۹ کال کې د ادبياتو په برخه کې د نوبل د جايزې گټونکی شو، چې ډېر غبرگونونه يې پارولي وو. ډېری ليکوالانو ان د دې غوښتنه کوله چې له هاندکې دې د نوبل جايزه بېرته واخيستل شي او دا پروسه دې لغوه کړل شي، خو داسې و نه شول، د نوبل بنسټ د خپل کار لپاره دلايل لرل او د دې جايزې گټلو يې د ځانگړو اثارو لوستونکي او مينه وال نور هم ډېر کړل. هغه د بوسني د جگړې پر مهال د صربيانو له پوځ ملاتړ کاوه، نو ځکه يې مخالفين ډېر وو او ليکوالانو يا نقادانو ويل چې د جگړې يوه ملاتړي ليکوال ته بايد د نوبل جايزه ور نه کړل شي.
هاندکې په ۱۹۴۲ کال کې په اتريش کې زيږېدلی دی. پيټر هاندکې يې خپل اصلي پلار نه دی ليدلی، له دوه کلنۍ يې له خپلې مور او پلندر سره اوسېده. دوی په شرقي المان کې مېشت وو، مورنی نيکه يې د اسلووني و. په ۱۹۴۸ کال کې بېرته گريفن ته راستانه شول. وروسته له دې چې ابتدايه ښوونځی يې خلاص کړ، نو د څلورو کلونو لپاره د کاتوليکانو په مذهبي ښوونځي کې و. بيا پوهنتون ته بريالی شو او په گراتس پوهنتون کې يې د څلورو کلونو لپاره د حقوقو په برخه کې زده کړې وکړې. له حقوقو تر فارغېدو وروسته يې ادبياتو ته مخه کړه او په دې برخه کې يې ليکل او مطالعه پيل کړل. ده د داستايوفسکي، ماکزيم گورکي، توماس وولف او ويليام فاکنر په څېر د تکړه ليکوالانو د اثارو مطالعه پيل کړه. په ۱۹۶۶ کال کې امريکا ته لاړ او د پرنسټون پوهنتون په ځانگړې ۴۷مه غونډه کې يې گډون وکړ. دا غونډه په دوديزه توگه جوړېده چې په هغه کې به پر رياليستي ادبياتو بحثونه کېدل او په دې غونډه کې هم هغه په المان کې پر رياليستي ادبياتو سختې نيوکې وکړې، نقد يې وکړ چې له همدې وروسته يې نوم د ژبو پر سر و او خلکو يې د نظرياتو لوستلو ته مخه کړه.
پيټر دمگړی ۷۶ کاله عمر لري، زده کړې يې د حقوقو په برخه کې کړې دي، خو بريالی په ليکوالۍ کې دی. ځينې بيا وايي چې زده کړې يې د حقوقو په برخه کې تر تخصص ونه رسولې او هر څه يې په نيمايي کې پرېښودل او ليکوالي يې خوښېده. لومړنی ناول يې سره غومبسه نومېده چې په ۱۹۶۶ کال کې يې چاپ کړ. لومړنۍ ننداره يې هم د نندارچي سپکاوی نومېده چې په ۱۹۶۷ کال کې خپره شوه. هغه ډېرې فلمي کيسې هم ليکلې دي چې د المان د فلم زرينه جايزه يې هم گټلې ده. د ناسم حرکت فلمي کيسې يې په المان کې ياده جايزه وگټله. هغه په خپلو کاري فعاليتونو کې د جورج بوشنر او فرانتز کافکا په نامه مشهورې جايزې هم لري. دغه ليکوال تر اويا عنوانه ډېر ناولونه، فلمي کيسې او ننداري ليکلي دي. تر ټولو وروستی او نوی ناول يې (د مېوې غل؛ يا د ننه وجود ته د تېښتې اسانه) لار نومېږي چې په ۲۰۱۷ کال کې يې خپور کړی دی.
هاندکې وايي چې يوازې اشيا او څيزونه توصيفول ادبياتو ته رنگ نه ورښښي، بلکې دا ژبه ده او د ژبې د کارونې ښه ده چې هم ادبياتو او هم توکو ته يو ځانگړی رنگ او جوهر ورکوي. د دې مشهور اتريشي ليکوال د متن موضوعات تر ډېره نقد، ځانگړی د شعر سبک، انځورونه او په کيسو کې په زړه پورې صحنې دي. هغه په خپل ځانگړي دريځ او فکر د ادبياتو په برخه کې مهمې پوښتنې مطرح کوي او د دې برخې لارويان له پوښتنو سره مخ کوي. دا پوښتنې بايد ځواب شي او دی يې د نقد په ژبه د ځوابونو په تمه وي.
ادبي نقادان په دې باور دي چې پيټر هاندکې له خپلو لومړنيو اثارو يو پياوړی ليکوال و چې ځانگړی سبک يې درلود او د بيان ځانگړې ښه يې درلوده چې دی يې مخکښ کړی و. د ده سبک د تجربو د زده کړې او لېږد لپاره تر ټولو غوره او اغېزناک گڼل شوی دی. د ده په خبره، ادبيات همغه ژبه ده چې موږ يې پنځوو، هغه څه ادبيات نه دي چې له ژبې او ليکلو بهر وي، يا يوازې په ژبه بيانېدلی شي، خود ليکلو ور نه وي. هاندکې د خپلې ليکوالۍ په ژبه هڅه کوي چې په نړۍ او کايناتو کې ځالې وکړي. د مسايلو ژورو ته د ننه شي او هر څه په ژوره توگه وڅېړي. ډېری ليکوالان د ژبو په برخه کې له مارتين متاثر دي.
په کلماتو کې تکرار د هاندکې د سبک بله ځانگړه ده او ليکوالان په دې باور دي چې ښايي دا ځانگړنه يې له موسيقي خپله کړې وي. هغه د تکرار په کتاب کې چې په ۱۹۸۶ کال کې يې چاپ کړی، د تکرار مفهوم يې تر بحث لاندې راوستی دی. تکرار د هاندکې لپاره د بيا تعريف لپاره زمينه برابروي. دی هغه څه په نوې ښه بيانوي، چې تر دې دمه رامنځ ته شوي دي يا شوې پېښې په نوې ښه درباندې گوري، سره له دې چې تکرار دي، خو ښه يې نوې او خوندوره ده. هاندکې په همدې تکرار کتاب کې د خپلې نوې ځوانۍ زمانه انځور کړې ده. دی په ۱۹۴۲ کال کې له الماني پلار او اسلوني مور زيږېدلی دی، چې په ۱۲ کلنۍ کې د کاتوليکانو په ښوونځي کې و. هغه په تکرار کتاب کې ليکي: ((د ادبياتو په برخه کې زما پنځه کاله زده کړې د دومره بريا جوگه نه دي، بلکې کلمات، بېوزلي، رټنه، سړې، تودې، حبس او شاقه کارونه هغه څه وو چې پايله يې زما ليکوالي شوه)). پر دې اساس دی د ليکوالۍ لپاره يوازې رسمي زده کړې کافي نه بولي. سره له دې چې هغه د ليکوالۍ لپاره د روزنې ډېر کنفرانسونه او سمينارونه تعقيب کړي وو، خو بيا هم په دې باور و چې يوازې زده کړې نه؛ بلکې تجربې او سختۍ هم هغه څه دي چې تاسې ليکوالۍ ته رسولی شي يا مو غوره ليکوال کولی شي. غوره ليکوالي يوازې د ليکوالۍ د مهارتونو په زده کړې کې نه ده نغښتې، بلکې په تجربو او سختيو کې ده.
هاندکې له همغه پنځلس کلنۍ د ويليا فاکنر، چارلز ديکنز، ژرژ برنانوس او نورو تکړه ليکوالانو د اثارو لوستل پيل کړي وو او هغه مهال به يې د ښوونځي په نشريو کې وړې وړې ليکنې خپرولې. ده له ليکوالۍ سره له تنکۍ ځوانۍ مينه لرله، لکه دی چې وايي سختۍ او د نورو خلکو د سختيو اورېدلې کيسې د دې سبب شوې، چې دی هم ليکل وکړي او کيسه ليکلو ته مخه کړي. ډېری کيسې يې د خپلې مور له خولې اورېدلې دي او هغه يې د ډرامو او ناولونو په قالب کې راوستې دي. د ده لومړنۍ بريا هم هغه مهال وه چې د لومړي ځل لپاره يې په ۱۹۶۵ کال کې له خپلو ليکنو خپل لومړنی کتاب خپور کړ، له دې وروسته يې ټول تمرکز پر ليکوالۍ و، ليکل يې د ژوند برخه شوه او د همدې لپاره يې د حقوقو زده کړه په نيمايي کې پرېښوده او ټول پام يې په ليکوالۍ و.
د پيټر هاندکې د بريالۍ ليکوالۍ يو بل راز په دې کې و، چې هغه په ليکوالۍ کې دوديزو قالبونو ته تسليم نه شو. په دې مانا چې د هغه وخت حاکم سبک، جريان او ادبي دود ته تسليم نه شو، بلکې هڅه يې دا وه چې په خپله طريقه د خپل زړه خبرې وليکي. ان په ډېرو مواردو کې يې پر حاکم ادبي جريان نقد هم کاوه او نيوکې يې ورباندې کولې. هغه نوو الگوگانو ته متوجه شو، په تياتر او ناول کې نوو حيرانتياوو ته ور وگرځېد او ډېر څه ته يې له نوو زاويو وکتل. د هغه په اثارو کې د کافکا او بکت اغېز هم ليدلی شو. د هغه په لومړنيو اثارو کې له ټولنې يوه ځانگړې وېره هم له ورايه ښکاري، له ورايه ليدلی شو چې هغه په ډېرو مواردو کې ځان کنټرول کړی دی، خو وروسته وروسته يې خپل ځان پاللی او د زړه براس يې ايستلی دی.
د هاندکې په اثارو کې يو بل څه هم وينو، چې هغه له معاصرې ټولنې د هغه د زړه ستړيا ده. دی په جهان کې د اړيکو له سړېدو، په ژبه کې له تغيراتو او منفي اغېزو، د مضامينو له بې ماناتوب او دې ته ورته مسايلو ستړی شوی و. له ده سره دا وېره شته چې نړۍ او معاصر انسان په اړيکو کې سوړ او بې پامه دی. نو دې نظريو ته په پام هغه د اتريشي فيلسوفانو او ليکوالانو لکه کارل کراوس او لودويگ ويتگنشتاين لاروی گڼل کېږي. نوموړي د مارگريت دوراس او شکسپير په څېر د نوموتو ليکوالانو اثار له انگليسي ژبې الماني ته ژباړلي دي چې خپل لوستونکي لري. د پېټر هاندکې لپاره د نوبل جايزه پر يوه جنجال او درد سر بدله شوه. د نوبل د بنسټ هدف دا دی چې د ليکوالۍ په برخه کې د نړۍ په کچه د ممتازو اثارو لرونکو ليکوالو ته دا جايزه ورکړي او دوی يې په خپلو چارو کې وهڅوي، خو پخپله پيټر د دې جايزې په اړه ښه نظر نه درلود او هغه يې يوازې لوبې گڼلې او په خبره يې هغو ليکوالانو ته ورکول کېږي چې بې مانا اثار پنځوي او اثار يې گټور نه دي. خو يو وخت د نوبل بنسټ پخپله اعلان وکړ چې پيټر هاندکې د نوبل جايزې گټونکی بلل شوی دی.
هاندکې له دې ټولو سره سره په نوي سبک او په مډرنه نړۍ کې لسگونه اثار ليکلي دي، چې پښتو ته يې هېڅ اثر نه دی ژباړلی شوی، خو په گاونډيو ژبو کې يې د اثارو ژباړې شته. هغه يې د خپلو اثارو په اړه وايي چې تر ډېره يې اثار د خپل ژوند تجربې او هغه کيسې دي چې له مور يې اورېدلې دي. مور يې په جگړو کې لويه شوې وه، نو د ډېرو سختو او خونړيو صحنو شاهده پاتې شوې وه، د ډېرو ټولنو زوال او سختۍ يې ليدلې وې او دا ټولې کيسې يې هاندکې ته رسولې وې چې هغه په خپلو اثارو کې راوړې دي.
د نړيوالو ادبياتو په برخه کې مشهور ليکوال ستنلي کافمن وايي چې هاندکې يو پياوړی ليکوال دی. د ده په خبره، دی په الماني ژبه کې په معاصره دوره کې بې جوړې دی، ځکه رسا ژبه يې کارولې ده او د الماني ادب پر حاکم ادبي وضعيت يې نقد او نيوکې کړې دي. نوموړي دغه راز ويلي چې له جگړې وروسته الماني لوستونکو همداسې يوه ليکوال ته اړتيا لرله چې تجربې ولېږدوي، هيلې پيدا کړي او له خلکو سره د دوی په ژبه اړيکه وپالي. د نوبل جايزې بنسټ هم په ۲۰۱۹ کال کې وليکل چې د دې کال د ادبياتو په برخه کې د نوبل گټونکی يې پيټر هاندکې دی؛ ځکه هغه د ژبې د کارونې په برخه کې ځانگړې مهارت لري، ژبپوهنيز مسايل يې ډېر دقيق مراعات کړي دي او تر څنگ يې د انساني تجربو په لېږد کې بريالی دی. پيټر هاندکې ۷۰ اثار لري، لا هم ليکل کوي او په پاريس کې ژوند کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۹۰ |
| € | ۸۳,۵۰ |
| Rp. | ٤۸۱ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# څنگه په کم خوب؛ خو پوره انرژۍ سره له خوبه راپاڅېږو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

ما د خپلو ازمېښتونو او نورو هغو کسانو د تجربو پر اساس چې له سهار وختي پاڅېدلو سره مینه لري، دا پایله اخیستې چې ډېری وخت هغومره چې موږ فکر کوو، هماغومره خوب ته اړتیا لرو. یا په بله وینا، کله چې له خوبه راپاڅېږو، ډېری وخت هغسې احساس نه لرو لکه څومره چې موږ خوب کړی وي، بلکې دا د هغه باور پر اساس منظم وي کوم چې موږ د خوب په اړه لرو او وایو چې موږ څومره خوب ته اړتیا لرو.

د بېلگې په ډول، که داسې باور لرئ چې تاسې د ارام اوسېدو لپاره اته ساعته خوبه ته اړتیا لرئ، خو د شپې ۱۲:۰۰ بجې ویده کېږئ او بیا سهار ٦:۰۰ بجې را پاڅېږئ، په ډېر زیات احتمال سره ځان ته وایئ: «اه خدایه، نن شپه یوازې شپږ ساعته خوب کوم، خو زه اته ساعته خوب ته اړتیا لرم. پوهېږم چې سهار به خسته وم.» نبه، په همدې حالت کې کله مو چې ساعت زنگ ووهي او پوه شئ چې د پاڅېدلو وخت دی، څه احساس کوئ؟

لومړی څیز چې هغه وخت به یې تاسې په اړه احساس کوئ، څه وي؟ هماغه د خسته‌گۍ احساس چې له خوبه مخکې مو یې د ویده کېدو په وخت په اړه حس کړی و: «اه خدایه، نن شپه یوازې شپږ ساعته خوب کوم، خو زه اته ساعته خوب ته اړتیا لرم. پوهېږم چې سهار به خسته وم.»

دا مخکې له مخکې یوه تحقق شوې وړاندوېینه ده، که ځان ته ووایئ چې سهار به د خسته‌گۍ احساس کوئ، حتماً به تاسې همداسې احساس کوئ.

که دا باور لرئ چې تاسې د ارام اوسېدو لپاره اته ساعته خوب ته اړتیا لرئ، طبعاً له اته ساعته کم خوب به تاسې ته د ارامۍ احساس درنه کړي. څه فکر کوئ، که مو دا باور بدل کړئ، څه به درسره وشي؟

د ذهن او ټول وجود تر منځ یوه قوي اړیکه ده او موږ باوري یو چې زموږ د ژوند ټول مسوولیت زموږ پر غاړه دی او دا مسوولیت باید ومنو، له دې مسوولیتونو یو دا دی چې موږ باید هره ورځ په پوره انرژۍ له خوبه راپاڅېږو، پرته له دې چې دا په نظر کې ونیسو چې څو ساعته کار مو کړی دی.

ما د خوب بېلابېل وختونه (۴-۹ ساعته خوب) تجربه کړي دي، په دې ازمېښت کې مې بل بدلون منونکی عادت دا و چې په منظم او فعال ډول به مې د خوب بستر ته له تلو مخکې ځان ته ویل، چې سبا به څه احساس لرم. لومړیو کې مې هڅه کوله چې د هر خوب له مهالوېش (۴-۹ ساعته) مخکې به مې ځان ته ویل، چې زه پوره خوب نه شم کولای او سبا به د خسته‌گۍ احساس کوم.

له څلور ساعته خوب کولو وروسته به مې هم د خسته‌گۍ احساس کولو. له شپږ ساعته خوب کولو وروسته به بیا هم خسته وم. له اووه، اته او نهه ساعته خوب کولو وروسته به مې بیا هم ښه احساس نه لرو. دا احساس مې تر هغه وخته کاوه چې له خوب مخکې مې ځان ته هره شپه ویل چې سبا به ښه احساس نه لرم او سبا به هماغه پېښه راسره هم وشوه.

دویم ځل مې بیا هماغه د خوب انټروال (۴-۹) و ازمایه، خو دا ځل مې هره شپه له ویده کېدو مخکې ځان ته ویل چې سبا به د پوره انرژۍ او پیاوړتیا احساس کوم او په دې احساس سره به له خوبه راپاڅېږم.

ځان ته مې وویل: «خوشاله یم چې پنځه ساعته خوب کوم. پنځه ساعته خوب هماغه کافي وخت دی چې زه ورته هر سهار د ارام احساس درلودو لپاره ضرورت لرم. زما وجود د معجزه لرونکو کارونو پر تر سره کولو قادر دی او د هماغه وړتیا د له منځه وړلو دلیل له پنځه ساعته زیات ارام خوب کول دي. زه باوري وم چې زه مې د خپل ژوند جوړوونکی یم او تصمیم نیسم چې هر سهار به په پوره انرژۍ او شوق سره له خوبه راپاڅېږم او خپله ورځ به همداسې په پوره انرژۍ سره پیل کړم او په همدې خاطر زه ډېر خوشاله وم.»

هغه څه چې زه دا وخت ورته متوجې شوم دا وو چې ما پرته له دې چې ووایم څو ساعته ۵،٦،۷،۸،۹ او یا که څلور ساعته خوب مې کړی وی، هره شپه به مې د ویده کېدو پر مهال ځان ته ویل چې همدومره خوب زما لپاره کافي دی او سهار به په پوره انرژۍ له خوبه راپاڅېږم. دا وخت به له ما سره همداسې پېښه وهم شوه. په دې اړه یوازې زما پر خبرو باور مه کوئ. زه تاسې ته وایم چې تاسې خپله هم یو ځل دا کار و ازمویئ.

پر همدې اساس، رښتیا هم تاسې څو ساعته خوب ته اړتیا لرئ؟ تاسې خپله ځواب راکړئ.

د ژوند د هغه وخت په اړه مو فکر وکړئ چې هر سهار به په پوره مینې له خوبه راپاڅېدلی. ممکن دا وخت ستاسې د لومړي هوایي سفر، هغو رخصت ورځو چې له میاشتو میاشتو مو پلان ورته جوړ کړی او یا هم ممکن دا وخت ستاسې د لومړۍ دندې او یا هم ښوونځي پیل وي او یا هم ستاسې د واده مراسم او یا مو هم د کالیزې اخري جشن وي. زه خپله نه شم کولای چې په ټول عمر کې مې داسې وخت په یاد راوړم چې زه د په پوره مینې او انرژۍ سره له خوبه راپاڅېدلی وم. دا احساس مې یوازې هغه وخت کاوه کله چې زه ماشوم وم او سبا به اختر و.

د هغه موقعیت په اړه هم فکر وکړئ چې هغه درته هر سهار د وختي پاڅېدو انگېزه درکوي. تاسې به په هماغه موقعیتونو کې له خوبه د راپاڅېدو پر مهال څه احساس کوئ؟ ایا مجبور به وی چې له خوبه راپاڅېږی؟ فکر نه کوم چې داسې به وي. زه په دې ورځو کې نه شم کولای چې داسې یوڅه ته په تمه و اوسم. په دې ورځو کې واقعاً زه هر سهار پوره انرژي لرونکی او یو ډول هیاجاني حس لرم. ډېر ژر د خوب له کټه پاڅېږم او پوره چمتو وم چې ورځ مې ښه پیل کړم. تصور وکړئ چې ستاسې د ژوند هره ورځ همداسې ده. ښه نه ده چې همداسې وي؟ همدا پېښه ستاسې په ژوند کې پېښېدلی شي.

سهار وختي پاڅېدل مو باید هدفمند وي، نه داسې چې تاسې ځانونه مجبور وگڼئ؛ بلکې داسې چې واقعاً تاسې غواړئ چې بیدار شئ او دا چې تاسې پر ځانگړي کس د بدلېدو لپاره دې ته اړتیا لرئ، څو یو بې مثاله او له برکته ډک ژوند جوړ کړئ. د سهار وختي پاڅېدو معجزې همدا کار همدا اوس په ټوله نړۍ کې ستاسې په څېر له زرگونو خلکو سره کوي.

که غواړئ چې هر سهار په پوره انرژۍ سره پاڅېږئ، له ویده کېدو مخکې ځان ته د خوب کولو انټروال معلوم کړئ او سهار په وختي پاڅېدو ځان مجبور مه گڼئ؛ بلکې ووایئ چې دا کار تاسې خپل ایډیال ته د رسېدو په خاطر کوئ.

# مالیې وزارت: په گمرکونو کې د پراخ فساد له کبله نږدې ۴۰ سلنه عواید ضایع کېږي

مالیې وزارت وایي، په گمرکونو کې د پراخ فساد له کبله نږدې ۴۰ سلنه عواید ضایع کېږي او د حکومت بودیجې ته نه ځي.

د مالیې سرپرست عبدالهادي ارغندیوال مشرانو جرگې ته ویلي، که کورني عواید ضایع نه شي، نو هېواد د خپلو کورنیو عوایدو له لارې تر یوه حده پر ځان بسیا کېدای شي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان په ملي عوایدو کې د فساد مسئلې ډېری افغانان اندېښمن کړي، خو مالیې وزارت وایي، اوس یې د ځینو برخو لپاره اړین گامونه اخیستي دي.



ارغندیوال ویلي، د گمرکي عوایدو د یوې لویې برخې د ضایع کېدو د مخنیوي لپاره لاس په کار شوي دي. د هغه په خبره: «موږ ډاډه یو چې د افغانستان په گمرکونو کې په خواشینۍ سره لږ تر لږه ۴۰ سلنه گمرکي عایدات ضایع کېږي او هلته فساد شته چې د سکنرونو په لگولو سره به یې مخه ونیول شي.»

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان اقتصاد او ملي عواید د کرونا ویروس له کبله سخت زیانمن شوي دي. مخکې هم افغان حکومت ویلي وو چې د کرونا ویروس خپرېدو له کبله د بې وزلۍ کچه په بې ساري ډول لوړه شوې ده.

د مالیې وزارت ویاند شمروز خان مسجدي هم وایي چې د تېر کال د همدې مودې پرتله د گمرکونو په ملي عوایدو کې کموالی راغلی دی. د هغه په خبره: «په روان ۱۳۹۹ مالي کال کې تر دمگړۍ پورې موږ له گمرکونو ٦۳ میلیارده افغانۍ عواید راټول کړي چې تېر کال څلور میلیارده افغانۍ عواید پرې ډېر وو.»

په ورته وخت کې څو میاشتې مخکې له فساد سره د مبارزې او ارزونې ځانگړې کمېټې یا مبک ویلي وو، چې د افغانستان په گمرکونو کې د عوایدو راټولولو بهیر روڼ نه دی او د دغو عوایدو یوه برخه د زورواکانو او مخورو کسانو جیبونو ته لوېږي. د مالوماتو له مخې، د افغان حکومت عواید په تېرو اتو کلونو کې کال په کال پورته شوي وو، خو دا ځل د پام وړ کم شوي دي.

# سرچینه: د دولت مرکچي پلاوی د سولې خبرو طرزالعمل په اړه طالبانو ته نوې طرحه سپاري

په قطر کې یوه باوري سرچینه وایي چې د دولت د مرکچي پلاوي له خوا د سولې خبرو د طرزالعمل د نهایي کېدو په اړه یوه معقوله طرحه چمتو شوې او د قطریانو په وسیله به طالبانو ته وسپارل شي.

د قطر په پلازمېنه دوحه کې یوې باوري سرچینې چې د نوم نه ښودو په شرط پژواک ته ویلي، د سولې خبرو د اصل په اړه چې طالبان یې له امریکا سره د دوحې تړون بولي، خو د افغانستان دولت مرکچي پلاوی هغه تړون د خبرو اصل (مبنا) نه گڼي او څو نورې طرحې طالبانو ته لېږل شوې، خو لا هم ستونزه نه ده حل شوې او په دې اړه اختلاف په خپل ځای دی.



سرچینې زیاته کړې، دغه طرحې د قطریانو په وسیله چې اوس د تسهیل کوونکي رول لوبوي، د دواړو خواوو (د افغانستان دولت او طالبانو) ترمنځ تبادله شوې او په دې طرحو کې یوڅه معقولیت رامنځته شوی دی.

د ده په خبره، مخکې د خبرو اساس یوازې د دوحې تړون و، خو اوس درې نور ټکي هم پکې اضافه شوي، خو سرچینې د دغو ټکو په اړه جزیات نه دي ورکړي.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، په دې وروستیو کې د طالبانو په دریځ کې یو څه نرمښت رامنځته شوی دی. په قطر کې د دولتي مرکچي پلاوي یوه غړي چې نه یې غوښتل په راپور کې یې نوم خپور شي، پژواک ته منلې چې دغه نوې طرحه د دوی لوري چمتو شوې او د قطریانو په وسیله چې د اسانتیا برابرونکي دي، طالبانو ته وسپاري.

هغه زیاته کړې، دوی په دې باندې بحث لري چې د خبرو اصل یوازې د دوحې تړون نه، بلکې درې نور اصله هم واوسي چې په هغه کې د دواړو لوریو ژمنتیا ده چې دواړه لوري دې سولې ته ژمن وي، همدارنگه هغه تعهدات چې ملگروملتونو تایید کړي دي او داسې نور.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



سه شنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د نومبر لسمه | ۶۲۶مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴ | ۱۸ | ۲۳ | ۲۰ | ۲۶ | ۲۹ |
| ۹ | ۵ | ۱۱ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۵۷ | لمر ختل ۰۶:۲۱ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:۳۲ | ماښام ۰۴:۵۴ | ماخوستن ۰۶:۲۰

## نړۍ




عراق ته د داعش تازه ګواښ؛

**راپورونه: بغداد ته نږدې د داعش په برید کې ۱۱ کسان وژل شوي او ګڼ نور ټپیان دي**

۳

## تازه شمېرې: په امریکا کې د کرونا وبا د مړو شمېر ۲۴۳ زره او ۷۹۷ کسانو ته ورسېد


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۵۱ میلیونو ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۲۶۴ زره او ۳۶۴ کسان مړه شوي او نږدې ۳۶میلیونه تنه ترې بېرته رغېدلي دي.

د امریکا متحده ایالتونه د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې لس میلیونه او ۲۹۵ زره او ۸۹۰ ته رسېدلي او ۲۴۳ زره او ۷۹۷ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

تر امریکا وروسته هند د کرونا ویروس د اته میلیونه او ۵۷۲ زره او ۴۰۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۶۶۴ زره او ۱۱۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د یو میلیون او ۷۹۶ زره او ۱۳۲ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د یو میلیون او ۷۸۷ زره او ۳۲۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانیا، ارجنټاین، برېټانیا، کولمبیا او مکسیکو په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: د روسیې په جنوب کې د پوځ په خپلمنځي نښته کې شپږو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



روسیې رسنۍ وایي چې د دغه هېواد یوه عسکر په نظامي اډې کې پخپلو ملګرو ډزې کړې، درې کسان یې وژلي او درې نور ټپیان شوي دي.

د روسیې د انټرفاکس خبري اژانس ویلي چې دغه پېښه د روسیې په جنوب کې د وورونژ ښار سره نږدې شوې ده. د پوځ په اعلامیې کې ویل شوي چې په پېښه کې درې پوځیان ټپیان شوي او روغتیایي وضعیت یې د اندېښنې وړ ښودل شوی دی.

یوې سرچینې د نوم نه ښودلو په شرط د انټرفاکس خبري اژانس ته ویلي چې د برید کوونکي عسکر او صاحب منصب تر منځ د لفظي شخړې نه وروسته عسکر د صاحب منصب نه ټوپک اخیستی او ډزې یې شروع کړې دي. ویل کېږي چې د نظامي اډې قوماندانۍ او په سیمه کې امنیتي اداري هڅه کوي چې برید کوونکي ونیسي. د یادونې ده چې د روسیې په نظامي اډو کې دا ډول بریدونه غیرې معمول نه دي. د تېر کال د اکتوبر په میاشت کې هم یوه عسکر په سایبریا کې پر خپلو ملګرو ډزې وکړې، ۸ عسکر یې ځای پر ځای ووژل او ۲ نور یې ټپي کړل. په روسیه کې نظامي خدمت په هغو سړیو چې عمرونه یې د ۱۸ او ۲۷ کلونو وي، اجباري دی او اکثریت خلک کوښښ کوي چې په ځینو پلمو ځانونه له نظامي خدمت نه بچ کړي.

## ولسی جرگه بودجهٔ وسط سال جاری را با اکثریت آرا رد کرده است



ولسی جرگه، بودجهٔ وسط سال و گزارش قطعیه بودجهٔ سال گذشته(۱۳۹۸) را با اکثریت آرای اعضای حاضر در جرگه، رد کرد.

در نشست دیروز ولسی جرگه، کمیسیون مالی و بودجهٔ این جرگه، گزارش جلسات مشترک این کمیسیون از بودجه وسط سال را به جرگه ارایه کرد و خواستار رد پیشنهادات حکومت شد.

میرافغان صافی رئیس کمیسیون مالی و بودجه ولسی جرگه گفت: «در بودجه وسط سال، تغییرات در بودجه ۵۴ واحد اداری پیشنهاد شده است، که این کمیسیون بعد از فراخواندن مسئولان واحدهای بودجوی، تنها تغییرات بودجوی در ۳۶ اداره را تائید کرد.»

به گفتهٔ موصوف، کمیسیون تعدیلاتی را در بخش های عادی و انکشافی بودجهٔ وسط سال به وجود آورده است.


عبدالرووف انعامی عضو دیگر این جرگه گفت: «وزارت مالیه می گوید که سند بررسی وسط سال را پیشنهاد کرده و مهم نیست که جرگه آن را رد می کند و یا هم تائید می کند.»

وی به نقل از مسئولان وزارت مالیه گفته است که اقدامات عملی موضوعات مندرجه این سند، قبلا انجام شده است.\

به گفتهٔ او، ۱۱ میلیارد افغانی در بررسی وسط سال، به جرگه پیشنهاد شده که بیش از هفت میلیارد آن به واحد عملیاتی اختصاص یافته است، که این اداره نزد ولسی جرگه رسمیت ندارد.


## ژوند

## د ګلکسي نوټ۲۰ ارزان بیه بڼه معرفي کېږي



سامسُنګ کمپنۍ له ګلکسي اېس۲۰ لړۍ ځیرکو موبایلونو وروسته د دې لړۍ ارزان بیه بڼه، ګلکسي اېس۲۰ اېف اي خرڅلاو ته وړاندي کړه. دغه ګلکسي د پیاوړو ځانګړنو او مناسبې بیې له امله د کاروونکو له تود هرکلي سره مخ شو. اوس سامسُنګ کمپنۍ غواړي چې د ګلکسي نوټ۲۰ لړۍ ارزان بیه بڼه هم وړاندې کړي. سام موبایل په دې اړه خپل راپور کې لیکلي چې سامسُنګ کمپنۍ خپله برازیلي وېبپاڼه کې د ګلکسي اېس۲۰ اېف اي تر څنګ د ګلکسي نوټ۲۰ اېف اي نوم هم لیکلی، چې له دې څخه ښکاري چې ډېر ژر به د ګلکسي نوټ۲۰ لړۍ اېف اي بڼه هم خرڅلاو ته وړاندې شي. د سامسُنګ کمپنۍ برازیلي وېبپاڼه کې د دغه ځیرک موبایل د نوم تر څنګ د مخپاڼې اندازه هم لیکل شوې ده. د دغو معلوماتو پر بنسټ، ګلکسي نوټ۲۰ اېف اي به ۶٫۵ انچه مخپاڼه ولري. تر دې دمه خپله سامسُنګ کمپنۍ په دې اړه څه نه دي ویلي او د دغه ځیرک موبایل د ځانګړنو په اړه نور معلومات هم نه دي خپاره شوي.

## د امیدوارۍ پر مهال دغه ویټامین ماشوم ذهین کوي




ویټامین ډي (Vitamin D) د خوړو یوه مهمه برخه ده چې د بدن د مختلفو فعالیتونو لپاره ډېر زیات اړین بلل کېږي. خو اوس یوې څېړنې ثابته کړې چې د امیدوارۍ پر مهال د مور بدن کې د ویټامین ډي اړینه او ګټوره کچه د ماشوم ذهني ودې لپاره هم ډېره ګټوره ده. جرنل اف نیوټریشن څېړنيزې مجلې کې خپره شوې څېړنه کې ادعا شوې چې د امیدوارۍ پر مهال د مور بدن کې د ویټامین ډي کچه او د ماشومانو ذهانت سره ژوره اړیکه لري. څېړونکي وایي چې اوسمهال ټولو خلکو او په ځانګړې ډول مېرمنو کې د ویټامین ډي کچه ډېره ټیټه ده او هیله یې څرګنده کړې چې د دې څېړنې له پایلو څخه وروسته مېرمنې د ویټامین ډي کچې ته جدي پاملرنه وکړي. دغه څېړونکي وایي چې میلانین پوټکی بدن د لمر د وړانګو له زیانونو ژغوري، خو د الټراوایلټ وړانګو د مخنیوي پر مهال میلانین په پوټکي کې د ویټامین ډي تولید کموي، چې له همدې امله اکثره خلک د ویټامین ډي له کمښت سره مخ وي.


عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او کټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د موبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د موبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره **1515** شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af | 1515



AZi pay